# د ښتي
# د لیډرانو
# تربیت

یو دستی کتابچه چه د لیډ رانو
په وړو وړو ټولګو کښي د
تربیت او کورنۍ چرچونه
نه غټ چرچونو په جوړولو
کښي رهنمایٔ کوی.

ټریننګ ریډیکل لیډران

یو دستی کتابچه چه د لیډرانو په وړو وړو ټولګو کښي د تربیت او کورنۍ چرچونه نه د غټ چرچونو په جوړولو کښي مدد کوی.

دانیئل بي.لان کاسټر

T4T پریس

اولني چهاپ 2012

ټول حقونه محفوظ دي ددِ کتاب هیڅ قسمه نقل کول که هغه د فوټو کافئ په شکل کښي وی یا د برقی او مشینی یا اواز سره وي د کتاب لیکونکی د اجازت نه بغیر په سختئ سره منع دي.خو د عام جائزي دمختصر کوټیشن نه علاوه.

کاپی رایټ:2012

لیکونکي: دانیئل بي.لان کاسټر

چهاپ:

ISBN 978-1-938920-72-1

ټول مواد کوم چه دلته په ګوته شوی دئ د پاک کتاب بائیبل نوی بین المللی ورژن

په ذریعه د بین المللئ بائیبل سوسائټئ ,NIV® copyright©1973,1978,1984 نه اخستي شوی دی.

د zondervan په اجازت سره اخستي شوئ دئ.ټول حقونه محفوظ دئ. سکرپټ کوټیشن (این_ایل_ټی) هم د پاک بائیبل نه اخستي شوی دی.نوي براه راست ترجمه ,copyright©1996,2004 نه دي. د استعمال اجازت د Tyndale hose publisher inc..Wheaton, Illinois, 60189. نه اخستي شوي دي. ټول حقونه محفوظ دئ. سکرپټ کوټیشن (NASB) چه د نوئ امریکن معیارئبائیبل ,copyright © 1960,1962,1968,1971,1972,1973,1975,® 1977,1995په ذریعه lockman foundation نه اخستي شوي دئ.سکرپټ کوټیشن (HCSB) The Holman Christian standard Bible ®copyright © 1999,2000,2002,2003, by Holman bible publisher نه اخستي شوی دی. ټول حقونه محفوظ دئ.

سکرپټ کوټیشن(CEV)Contemporary English version copyright©1995 د امریکن بائیبل سوسایټئ په اجازت اخستي شوی دی.

Library of Congress Cataloging –in- Publication Data.

# محتویات

سر ورق........................................................7
سریزه.........................................................9
دیباچه ........................................................11

## ړومبۍ حصه: عملی تفصیل

دیسوع مسیح حکمت عملی.................................17
د لیډرانو تربیت ......................................20
د تربیت اوصول .......................................25

## دویمه حصه: د لیډرشپ تربیت

ستړې مه شئ..............................................29
د یسوع مسیح په شان تربیت..........................43
دیسوع په شان لیډری اوکړئ. ........................56
ځان تکړه کړئ............................................70
په یوالي کښي ترقی کول.................................83
تعلیمات/ اسمانی صحیفي خورول. ......................95
مریدان جوړول..........................................112
ټولګی شروع کول .....................................129
ټولګی زیات کړئ......................................146
د یسوع تابعداری اوکړئ ...............................163

# دریمه حصه: موجوده وسائل

نوره مطالعه ........................................................ 177
ضمیمه الف ........................................................ 178
ضمیمه ب ........................................................ 190
ضمیمه سی ........................................................ 192
ضمیمه ډی ........................................................ 194

د تهوم په یاد کښي

# سر ورق

په ګرجه کښي د پادری کار کول نور ښۀ جوړول یو مستقل ګران کار دي . هغه کسان چه د یسوع په خدمت کښي شامل دی دهغوی ته پته ده مسائل څه خبري ډیرې نازکې دی هغه څه نه چه په یقین کښې راوستل دی چه د عقیدت مندو د تربیت دپاره اثرپریښودونکې طریقي استعمال شې .په دغه موقع کښې د عقیدتمندو د تربیت د پاره د ټولو نه اسر کونکی طریقه د یسوع مسیح دتربیت ورکولو سلسلي پیروی کول دی.په د سلسله کښي د ټولو نه ړومبې کتاب ،،پاځۀ پیروکار جوړول،، دا کتاب د یسوع د اولنو پیروکارو په شان نوی عقیدت مند عیسائیت ته اړولو دپاره یو اسان او دوباره پیدا کونکي سبق ورکوې.دا کتاب د مخکښي خبره لګه وړاندې وړی او د مسیح په شان پیرکارو مشرئ د پاره سبقونه ورکوی ، کوم چه په خپل ټولګو کښي اضافه کوی.د جړي مشرانو ته تربیت ورکول کوم چه ډان لان کاسټر لیکلي دتربیت دپاره یو ازما ئلي او کوشش کونکي کتاب دي . دا په سبق ورکولو کښي یو عملی او اسان کتاب دي ، کوم چه مزاقی ،تصویران مخي ته کوی .او د هغه کسانو دپاره کوم چه تربیت کړي شوی نیغ په نیغه تجرباتن ورکوی

د جړي مشرانو ته تربیت ورکول ، د ټول پادریانو د کار کولو دپاره د تربیت یو د اثر نه ډک او بغیر د څه شکه بار طریقه ده . دا مواد نه صرف اثر کونکی ده بلکه د لیډرئ په تیزولو کښي تیزی راولی، یوه طریقه ښائی چه خداي ته رسیدونکي مشر به څنګه ښکاری ، او د دِ سره دا هم ښائی چه نوې ګرجه به څنګه جوړه وي ، یا د نوي ګرجي د بنیاد دپاره ښودنه هم کوی. دا کتاب لګ شان د وړاندي خیال کوی. او تربیت کړي شوی مشران راپاسه وی او مدد کوی او هغوی له تربیت هم ورکوی .د جړي مشرانو له تربیت ورکول ، مشرانو له مدد ورکوی چه ځان او پیژنیا و سره سره هغه چه کوم دۀ له د دوی سره

په یو نوې جزبه سره کار کوی ، په اتۀ تصویرانو کوم چه د شخصیت سره تعلق ساتی.

د یسوع تربیت ورکولو سلسله ټول په ټول نوې عقیدت مندو له یو مکمل سامان ورکوی ، مکمل طریقه کار ورکوی . دا دوئم کتاب په هغه سلسله کښې مدد ورکوی او عملې طریقه جاری ساتی کوم چه په ړومبی کتاب کښې شروغ شوې .د پادریانود کار کولولاد مشرانو مشر د هغې طریقې غوښتنه کویګومه چه د ټولو نه ښه ده. دلته د مشرانو د تربیت دپاره یوه منصوبه ده کومه چه د لاندینی شرطونو غوښتنې پوره کوی.

روې جې فش

# سریزه

دټریننګ هر یو کتآب د ترتیب شوی سبقونو هغه مجموعه وی کوم چه په ژوند کښی تیر شوی وی. دیسوع مسیح دټرنینګ مرحلي په هر حال کښي قبولو لازم دی . زه د ډیرو خلقو د زړه دخلاصه شکریه ادا کوم چا چه ما ته تر بیت راکړي دي. دغه شان زه هم نورو خلقو ته تربیت ورکولي شم.

ډیر زما دوستان چه په جنوبی نمر ختیز ایشیا د لیډرشپ ټریننګ موادو ته ترقی ورکوی ما سره سنګ په سنګ کارونه کړي دی. زه ده ډاکټر "ګل برټ ډیوډ"، "جیری وایټ فیلډ"،"کریګ ګیریسن"،"سټیو سمت"،"نیل ممز"، "ووډی" او ,لانن" ډیره شکریه ادا کوم ,چه دوئ زما هر قسم امداد او ملګرتیا اوکړه. مونږ دا سفر تر ډیر کلونو پوري یو ځاي کړي دي.

ډیر روحانی مشران چا چه زما په ژوند ډیر زیات اثر کړې دی زه ده هغوی هم شکریه ادا کوم. ډاکټر "پارس" ما ته دا سبق را کړي دي چه الله پاک ته به په خپل زړه کښې کوم ځاې ګورې.

"ګیلون لین" ،"ایل.ډیباکسلي" او "ټوم پوپلکا" زما د مذهبی سفردوران سخته حصه د روحانی لیډر شپ او غیر مشروط میني یوه نمونه ټاکلي ده. ډاکټر "ایلون میکنن" ما ته خوصله راکړه او الله پاک دا روښانه مشن زما په زړه کښي ځاې کړو. "ریوی نک اولسن" ما ته دا اوښوده چه یو سړي به دیانتداره او ماهره ځنګه کیدي شی. ډاکټر "بن سمت" زه د یسوع مسیح سره اشنا کړم اوماته کښي خوداعتمادی پیدا کړه. ډاکټر" فش" د یسوع مسیح ړومبنی منونکو د تعداد ډیرولو دپاره مخکښې نه زما په وزارت کښې خپله بصری نظریه وړاندي کړه. ډاکټر "ریوی رون کیپس "ماته دا ښودل چه لوئ مشر لوئ خدمتګار

وی. ستاسو د ټولو ډیره مننه چه تاسو ماته د مشرئ تربیت راکړو ځکه چه زه اوس بل ته تربیت ورکولي شم.

"ټوم ولز" د یو عالم په حیثیت سره په های لینډ فیلوشپ کښې دکوم چه مونږ د دویم چرچ په طور باندي بنیاد اښودي اوو، پاتي شوي دي. یو ماهر موسیقار او زما ډیر خوږ ملګري "ټوم" ده چا سره چه ما ډیري کافئ په یو ځاي کښې نوش کړی دی او د یسوع مسیح د أته تصویرونو باره کښې مو ډیر ي خبري کړی دی. هغه د تربیتی مشر د شخصیت د معلومولو د پاره یوه ساده طریقه را اوښودله. مونږه چرچ ته ترتیب ورکړو او د وزارت بنیاد مو د یسوع په أته تصویرونو کیښودو. د دي سره سره مونږه علاقای چرچونو ته هم مشاورتی خدمات د چرچ د صحت ساتلو دپاره ورکړل. اګر چه اوس ته الله پاک سره ي ،ټوم ،تاته پته ده چه ستا کار روان دي ، مونږه تا یاده وو, اومونږ تاډیر مس کوو.

زه خاص شکریه ادا کوم د ډیوډ او جل شینکس چا چه به د کار کښې زما پوره پوره مرسته اوکړه د هغوی د سخاوت دلاسه په ایشیا کښې بي شمیره عقیدتمند د د قابل شو، چه هغوی د چرچ او لیډرشپ ترقی ته تقویت ورکړو. په جنت کښې به ډیر لوي قطار وي زه به تاته د شکریه ویلو په انتظار یم. او په اخرکښې، ځما خاندان دا کتاب تاسو ټولو ته د هدیه په طور در کوی. حولی،زما ښځه ،زما بچی جیف، زیچ، کاریس، او زین ټولو ډیره لویه قربانی ورکړي ده. او په د کارکښی زما هر قسم مرسته کړي ده په د مرسته سره چه جذبات او روحانی پیشوایت ته ترقی ور کړی او قوم ته فایده اورسی.

دانییل بی لان کاسټر پی.ایچ.ډی.
جنوبی نمر ختیز ایشیأ

# دیباچه

الله پاک زما خاندان ته په امریکا کښي د دوه چرچونو پرانستو اعزاز ورکړي دي ړومبي چرچ چه هملټن ،ټکساس کښی دي یو کلیواله مرکز چه د ټکساس دټولو نه یوه پسمانده علاقه ده. د یاد ساتلو خبره ده چه الله پاک د عقیدت مندو دا مضبوط ټولګي چاچه د ۲۰۰ نشستو نو یو چرچ بغیر د قرضي اخستلو په ډیر سخت وخت کښي تر سره کړو. الله پاک زمونږ د ټولو ژوند بدل کړو کله چه هغه هملټن یاد کړو.

مونږه خپل دویم چرچ لیوس ویلی د ټکساس په علاقه کښي شروع کړو. ما خپل ړومبنی تعلیم نه واخله تر اخیری تعلیم پوري د لیوس ویلی نه حاصل کړي دي. چه په ډلاس او ټی.ایف په مضافات کښي یوه شانداره او مخ په وړاندي قیمتی علاقه ده. زما اباې چرچ چه د "لیک لینډ" په نامه یادیږی د د چرچ په ترقې کښي مونږ سره هر قسم مرسته کړي ، هغه که مالی ده یا روحانی، ډیره په سخاوتیا سره کړی ده. اوس دا زمونږ اتلسم چرچ دي په د علاقه کښي ځکه چه زمونږ ه سره د چرچونو د جوړولو تجربه ده. پاسټر مونږ ته دا و ئیلی دی چه د چرچ د بنیاد کیښودلو په و خت کښي د چا په اسره مه کیښني ،د خاص ټولی نه امداد مه غواړئ اودروازه په دروازه سوال مه کوئ.

د چرچ دجوړولو په ړومبئ دوه میاشتو کښي ماته ډیره زیاته ستومانی او دردونه اورسیدل. ډاکټرته معلومه شوه چه دا بیماری ماته په هغه ورځ لګیدله ده په کومه ورځ چه زما ځلورم ماشوم پیدا شوي وو. مخکښي د ډاکټری رپورټونو نه دا ثابته شوه چه ماته دمختلفي بیماری لکه د جوړونو دردونه،د ملا دردر، دپښتئ دردونه، د ټوټی درد, د پنډئ درد ،او د ګیټو د درد شکایت دي. د درد ختمولو دپاره مي دردونو تیز دارو استعمال کړل او لګ ارام راته ملاؤ شو. خو دهغي د وجي به زما بدن نشه کیدو. او هر وخت به خوبولي اووم. ما به روزانه دوه ګهنټي کار کولو او باقی وخت به مي په ارام او دعا ګانو کښي تیروو.

زمونږ په وزارت کښي دا وخت ( ډارک نايټ اف دی سول) اوو. سټرېوالی او درد هر څيز کم کړي وو. اګر چه زۀ ډېر زيات بيمار ووم خوبيا هم ما دا محسوس کوله چه الله پاک بيا هم مونږ.ه ته د چرچ د چلولو دپاره اواز کوی. مونږه هغه اووي چه مونږه ازاد کړه خو هغه مونږ ته توجه او ياد ګيرنه راکړه چه د الله پاک رحمت کافی دي. مونږه داسي محسوسه کړه الله پامونږه پرېښودو مګر د هغه مينه چرته هم عارضی يا پردیٔ ثابته نه شوه. مونږه د رابللو وجه وتپوسله مګر هغه مونږه مسلسل خپل طرف ته مائيل کړو. او مونږ ته ي دا اميد راکړو. مونږه حيران وو ګويه الله پاک مونږه ته د نامعلومي ګناه سزا راکوی. خو بيا يي هم مونږه د ايمان ددولت نه مالامال کړو او هغه پناه شوی خلق به بچ کړی او واپس به يي خپل خاندان ته را اوغواړی. زمونږه هغه خوب چه منزل مقصود طرف ته روان اوو يوه ورځ بلکل په تپه شو او نامعلومه وخت پوري غيب شو.

ته به څنګه خپل وخت ورکوي که چري ته صرف په ورځ کښي دوه ګهنټي وخت يو نوی چرچ ته ورکوي؟ الله پاک مونږه ته ده ليډرانو زياتولو لار اوخودله. ما دا زده کړل چه يو سړی سره به د غرمي روټۍ په وخت يوه ګهنټه څنګه تيره وي او هغه ته د رخصتۍ په وخت د راتلونکی مياشتې د پاره يوه زبردسته منصوبه څنګه ورکوي چه عام طور باندي د روټۍ په رومال ليکلي شوي وي. د معاشرتی اخلاقياتو تربيت خلقو کښي عام کول،او بيا نمبر په نمبر نورو ته تربيت ورکول دي. مونږد خلقو امداد کوو او دا معلومو چه الله پاک دوي څنګه يو ځاي کوی او بيا څنګه هغه د عيسايت په عملی طريقو باند ي قايم پاتي کيږی. دجسمانی تکليفونو باوجود ډېر لوي او ماشومان په د خلقه کښي شامل شو. زما د بيمارۍ په دري مياشتو کښي مونږه يو نوي دارو شروع کړل. چه هغي سره زما ډېره ښيګړه اوشوه.

درد او ستومانی قابو کښي راغله. په ځاي د دي چه مونږه د پاسټر؛ پخوانې لاري ته واپس شوي وي، مونږ د تربيتی ليډرانو د ترقیٔ لاري ته زور ورکړو. د چرچ د پرانستو نه څلور کاله پس ما د خپل يو دوست سره د جنوبی نمر ختيز ايشأ د بصری سفر اراده اوکړه. او کله چه ما په بهرنیٔ زمکه دي منصوبي د پاره قدم اوچت کړو نو الله پاک ځما زړۀ بيدار کړو او ماته اوئيل چه اوس ته په امن کښي يې. هم دغه شپه ما خپلي ښځي تهِ اواز کړو او دغه خبره مي ورته او کړه نو هغي هم اووئيل چه او ما سره هم داسي شوی دی. يو کال پس مونږ خپل

ټول هر څه خرڅ کړل او د خپل څلورو کسانو کورنۍ سره د جنوبی نمر ختيزاېشيا پهٔ لور مخه اوکړه.

مونږ په يو بند ملک کښي شروع کړو او شاګردان مو پيدا کول شروع کړل.مونږ الله ته اوئيل چه مونږ ته دري سړی او دري ښځي راکړه چه په هغوی کښي مونږ خپل ژوند واچوو. چه د يسوع مسيح اطاعت اوکړی لکه څنګه چه پټر،جيمز او جان کړي وو. الله زمونږ سوال قبول کړو او مونږ له يي خلق راکړل. مونږ هغوی ته تربيت ورکړو. لکه څنګه چه برنباس ته پاؤل ورکړي وو. څه رنګي به چه مونږه خلقو ته د يسوع مسيح د تعليماتو درس او تربيت ورکولو دغه رنګي به هغوی نوی نوی ټولګی راوستل. او د هغوی نه چرچونه جوړ شول. څنګه چه به ټولګی سوا کيدل نو چرچونو کښي به د هغوې د تربيت دپاره د تربيت شوی ليډرانو ضرورت راتلو.کوم ملک کښي چه مونږه ديره اوو هغي کښي د ليډرانو ډير سخت کمي او د ليډرشپ د ترقۍ ورکښي ضرورت اوو. مونږه يو ژوره مطالعه شروع کړه چه څنګه يسوع مسيح شاګردان ته تربيت ورکولو او ليډران به ي تري جوړول.


مونږه دغه سبقونه خپل قومی دوستانو ته اوښودل او يوه نوي او مزيداره معلومات مو خاصل کړل. شاګردان جوړول او تربيتی ليډران د يوې سکي دوه مخه دی. شاګردان جوړول د سفر اغاز وي،او ليډران ټرينډ کول د سفر جاری ساتل وی. مونږه دا هم معلومه کړه چه مونږه يسوع مسيع ته ډير ورنيزدي شوی يو. او زمونږ دا تربيت نور هم سود مند شو. دا فايده مند سبقونه مونږ ليډرانو ته ښائيو چه په د تربيتي کتابچه کښي شامل دی. يسوع د هر ي زماني يو غټ ليډر دي او د خپلو پيروکارو په زړونو کښي ژوندي دي. څنګه چه مونږ د هغه اطاعت کوو دغه رنګي مونږه ډير ښۀ ليډران جوړيدي شو. الله پاک د تا د يو ليډر حيثيت سره اوبخی. او کم خلق چه د د کتابچي نه متأثره شوی دی هغوی هم. ډيرو ليډرانو په کاميابيۍ سره د ليډرانو نسل ته تربيت ورکړو د دِ موادو په ذريعه. او مونږ دعا کوو چه الله پاک د تا د دِ هر څه له کبله اوبخی.

ٮومبئ حصه

# عملى
# تفصيل

# دیسوع مسیح حکمت عملی

د یسوع مسیح دا حکمت عملی وه چه پینځه طریقي به قوم کښي راولي. په الله پوخ یقین ساتل، تعلیمات خورل، مریدان جوړل، ټولګی د چرچ تلو ته تیارول، او لیډران پیدا کول. دا ټولي طریقي په خپل ځاي ډیر لوی مقام لری. د هغوی په ګروپونو کښي د یو ځاي کولو طریقه، د یسوع مسیح د تعلیماتو تربیتی مواد تربیت اخستونکی د دِ خبري جوګه کوی چه د چرچ د جوړولو طرف ته د خلقو په تیزئ سره مخه کړی. د یسوع د اطاعت ساده طریقه لاندي ذکر ده.



د یسوع مسیح د تعلیماتو دپاره د پوخ یقین والا جوړل او اولنۍ څلور طریقي خپلول. مریدان اول دا زده کوی چه عبادات به څنګه کوو. او د یسوع مسیح اطاعت،احکامات،او د پخي جذبي په رنړا تلل،یعني په پاک الله پوخ یقین ساتل. مریدان دا پخپله معلوموي چه الله پاک ته به څنګه نزدي کیږو،هغه په کوم ځاي کښي دي،او دهغه احکامات په روحاني جنګ کښي د طاقتوري اسلحي په طورڅنګه استعمالو. بیا هغوی دا زده کوی چه تعلیمات به څنګه خوروو،خلق به د الله طرف ته څنګه رابلو، د دي سبق حاصلولو نه روستو لیډران د وړو وړو ټولګو د ٱلاتو سره شروع کوي،او خپل بصری خیالات خوروی او خپلو کسانو ته ځان رسوی(ټولګی جوړه وی)

پاخه لېډران د اظهار دوه طریقي په ډیر په شدت سره محسوسئ، خلقو ته تربیت ورکول او بیا د هغي نه تلل. پوهه لیډران خواهش لری چه روحانی لیډران به څنګه جوړ کړي شی، او یو وړوکي ټولګي به په چرچ کښي څنګه بدل کړي شی. ځکه چه د یسوع مسیح په تدبیرونو کښي مسلسل کامیابئ ته حکمت عملی نه وائ. بعض مریدان د لیډر شپ باره کښي تقاضه کوی او روستو د چرچ د جوړولو تربیت په ګوته کوی. لیکن نور مریدان دا حکم په شا غورزوی. د دِ په نتیجه مونږ د دوؤ نورو تربیتونو کورس مریدانو ته وړاندي کوو،کوم چه د مریدانو په زیاتولو ګښي حصه اخلی او نورو خلقو ته په تربیت ورکولو مخلص وی.

(ستارټنګ ریډکل چرچ) موجوده چرچونو کښي د نوی ټولګو د پاره نوی چرچونو پرانستلو کښي مدد کوی. (دیسوع د حکمت عملئ څلورم تدبیر). یو څو لیډرانو چرچ جوړول شروع کړو او یوه غلطی تري اوشوه چه د نوی چرچ په جوړولو ګښي یي د زوړ چرچ نقل اوکړو. دا حالات اکثر کمزوري نتیجي ورکوی. (ستارټنګ ریډکل چرچ) د داسي قسمه غلطو نه ځان ساتی، او د مریدانو په تربیت کښي دیسوع مسیح د هغه اتهٔ 8 احکاماتو تابعداری کوی، کوم چه د چرچ د جوړولو د پاره په شق نمبر 2 کښي دی. هر حکم ته عملی جامه اغوستل او په هغه یو کار کول چرچ ته د یو تحریری لوظ په شکل کښي ترقی ورکول دی. او که چري یو ټولګی ته د الله پاک د طرفه پوهه اورسی نو بیا د دهغه سیمنار اختتام د خوشحالئ تقریب او د نوی چرچ د زړه په مینه سره أغاز اوشی.

(سټارټنګ ريډکل ليډرز) د ليډرانو په جوړولو کښي د نورو خلقو مدد کوی چه يو جزباتی او روحانی ليډر تيار کړی. ديسوع مسيح د حکمت عملې اتم 8 تدبير. د چرچ په جوړولو کښي د ټولو نه اهم جُز د لېډرشپ ترقی ده. په سمينارو کښي ليډرانو ته دا ښودلي کيږی جه يسوع مسيح به د ليډرانو د تربيت د پاره کومي طريقي استعمالولي. دا يسوع مسيح د اوومي ليډرشپ خوبياني، په هر زمانه کښي د ټولونه لوي ليډر. ليډران د شخصيت طريقي او قسمونه دريافت کوی،د خلقو مدد کوی او د مختلفو شخصياتو سره په يو ځاي کار کول. په اخره کښي ليډران د يسوع مسيح منصوبه بندئ ته ترقی ورکی.کوم چه د وزرات د دولسو کښي شامل دی. هغه چه يسوع مسيح په خپل لسم نمبر کتاب کښي خپلو مريدانو ته په ګوته کړی دی. سميناري د د يسوع مسيح د منصوبي خورولو او د يو بل دپاره د د عاګانو غوښتلو نه پس ختميږی. ليډران د ديو بل ځاي دتلو قصد کوی او نوی ليډرانو ته ترقی ورکوی.

دواړه که هغه د ريډکل چرچونو سټارټ کول دي يا د مريدانو د تربيت کار دي يو مقصد لري يعنی د يسوع مسيح وزارت او طريقو ته وده ورکول دی. ماهران ليډرانو ته مثالی ألات ورکوی چه هغوئ استاذان ساز شی او نورو ته ي اورسوی. لانديني د يسوع مسيح تربيتی کورس نه چه صرف د يادولو دپاره دي بلکه د ژوند د تيرولو يوه لاره ده. الله پاک بخلی دی او د خپل زوي د اطاعت په وجه د بي شميره خلقو زندګئ بدلي کړي. عقيدت مند د يسوع مسيح د حکمت عملئ اطاعت کوی، او يو نا اشنا ثقافت ښايی. الله پاک دا ټول هر څه ستاسو او د هغه خلقو کوم ته چه تاسو د يسوع مسيح د اطاعت د پاره تربيت ورکوئ په ژوند کښي راولی.

# د لیډرانو تربیت

ټریننګ ریډیکل لیډران په خپل ړومبی کورس کښي مریدان جوړوی او د هغو خلقو مدد کوی کوم چه د مریدانو ټولګو ته دلیډرانو په شکل کښي ترقی ورکوی.او نور ګروپونه زیاته وی

## د تربیت نتیجي

دا رنګي د ټریننګ سیمنار ختمیدو نه روستو زده کونکی کولي شی.

- نورولیډرانو ته د لسو کسانو ټولګی ته د لیډر شپ تعلیم ورکولي شی.
- نورو لیډرانو ته د یسوع مسیح په ښکلي طریقه تربیت ورکولي شی.
- د شخصیاتو مختلف قِسمونه پیژندي شي او د خلقو سره د یو ټیم په شکل کښي په کار کولو کښي مدد کولي شی.
- یو حکمت والا منصوبه تیاره ولي شي او په روحانی طریقي سره په خپله معاشره کښي نوی ټولګی زیاته ولي شی.
- په د پوهه شی چه څنګه به د چرچ د جوړولو تحریک ته د خلقو مخه کوی

## د تربیت طریقه کار

هر لیډر د تربیت په وخت هغه طریقه اختیاروی کومه یسوع مسیح د خپلو مریدانو نه د لیډارنو جوړولو دپاره استعمالوله، دیوعام سبق خاکه باندي عمل په ورکړي شوی مقرر وخت سره کیږی.

## تعریف

- ځان له دوه کورسز ( ګروپ اوازونه) حمدیه کلام په یو ځاي ویل( زیات نه زیات وخت)

(لس منټه)

## کار کر دګي

- یو لیډر د خپلي کارکر دګئ حالات په وزارت کښي د باقی لیډرانو سره په اخیری وخت کښي بیانوی. د لیډر او د هغه د وزارت د پاره په جمع دعاګاني غواړی.

(لس منټه)

## مسله

- استاد(ټرینر) د لیډرشپ عام مسائل بیانوی,اود قیصي په شکل کښي یا د مِثالونو په ذریعه یي وضاحت کوی.

(پینځه منټه)

## منصوبه

- استاد لیډرانو ته د لیډرشپ ساده او اسان سبقونه ښائ چه د لیډرشپ د مسائلو د حل د پاره پوهه او مهارت ورکړی.

(شل منټه)

## مشق

- لیډر خلور ټولګي سازوی او د لیډرشپ په طریقو مشق کوی او تازه زده کړي شوی سبقونه یو بل سره اړوی. دا لاندینو ورکړي شوو سره.
  - د دِ لیډر شپ په علاقي کښي ترقی کیږی.
  - د د لیډر شپ په ِعلاقي کښي مسائل مخي ته راځی.
  - منصوبي، د لیډر شپ د سبقونو په بنیاد راتلونکی 30 ورځو کښي پرمخ تګ کوی.
  - د لیډر شپ د سبقونو په بنیاد راتلونکی 30 ورځو کښي د هنر مشقونه کیږی.

(دیرش منټه)

## دعا ګاني

- د خلور خلور کسانو ټولګی دعاګاني وائ او د یو بل دپاره دعاګاني غواړی.

(لس منټه)

## اختتام

- زیات اختتامی وختونه د یادولود سرګرمو سره ختمیږی. کوم چه د لیډرانو د لیډرشپ د سبقونو د سیاق وسباق سره تعلق ساتي.

(پنځلس منټه)

# د لاندی نه دمشرانو پالنه/تربیت

دا دلاس کتابچه د دري ورځو غونډي یا د لس هفتو دَ خودني پروګرام دپاره غوره دي.هر مشن کی دوه ترتیبه دی.چه یوه نیمه ګنټه وخت اخلی.خودنکو ته دخودني عملبه صفحه نمبر ۲ باندي ورکړی شوي دي.

د مشري خودنه په میاشت کی یو ځل کیږی یا دوه ځل او یا دری ورځنی سیمنار کي.به اوسنی وخت می چه کوم مشران دټولګو مشری کوی هغوی د ي کي برخه اخستي شی.

## دري ورځني ترتیب

| | ړومبئ ورځ | دویمه ورځ | دریمه ورځ |
|---|---|---|---|
| 8:30 | هر کله راشه | یو موټي کیدلو کښي طاقت وي | ټولګی شروع کړئ |
| 10:00 | وقفه | وقفه | وقفه |
| 10:30 | د یسوع غوندي ښودنه | د ډرامي مقابله | ټولګی زیات کړئ |
| 12:00 | د غرمي ډوډئ | د غرمي ډوډئ | د غرمي ډوډئ |
| 1:00 | د یسوع غوندي مشری کول | اسمانی صحیفو باندي خبري کول | یسوع اومنئ |
| 2:30 | وقفه | وقفه | |
| 3:00 | ځان تکړه کړئ | منونکی جوړ کړئ | 3:00 |
| 5:00 | د ماښامي ډوډئ | د ماښامي ډوډئ | 5:00 |

# هفته وار ترتیب

| | | | |
|---|---|---|---|
| رومبۍ هفته | هر کله هشار | شپږمه هفته | اسمانی صحیفو باندي خبري کول |
| دویمه هفته | د یسوع غوندي ښودنه اوکړئ | اوومه هفته | منونکی جوړ کړئ |
| دریمه هفته | د یسوع غوندي مشری اوکړئ | اتمه هفته | ټولګی زیات کړئ |
| څلورمه هفته | ځان تکړه کړئ | نهمه هفته | ټولګی زیات کړئ |
| پینځمه هفته | یو موټي شئ | لسمه هفته | یسوع اومنئ |

# د تربیت اوصول

نورو خلقو ته د لیډرانو په حیثیت ترقی ورکول مزیدار او د طلب کار دي. د مشهور خیالاتو برعکس ،لیډران جوړولي شی نه چه پیدا کولي شی. د نورو لیډرانو په ملاپ، د لیډرشپ ترقي په بین الاقوامی او د یو نظام دننه پکار ده. بعضي خلق په غلطئ سره دا یقین ساتی چه لیډر د شخصیت په بنیاد جوړ یږی. په امریکا کښي د کامیاب غټو ګرجو د پادریانو د یوي ټندي جائزي مطابق،بیا هم دا ظاهریږی چه پادریان د ډیر مختلفو شخصیتونو مالکان دی. هر کله چه مونږ د یسوع پیروی کوؤ، نو مونږ د هر زماني د ټولو نه لوی لیډر پیروی کوؤ، او خپل ځان ته بحیثیت یو لیډر ترقی ورکوؤ.

د تیز توند لیډرانو ته د لیډرشپ د ترقئ د پاره د یو برابر رسائ ضرورت دي. برابر یا متوازی رسای په علم کار،اخلاق،مهارت،او ترغیبات مشتمل ده. یو کس له د موثره لیډر جوړیدو دپاره د دِ څلورو اجزاء ضرورت دي. بغیر علمه،غلطي مفروضي او ناپوهی لیډر غلطي لاري ته سمه وی. د اخلاقو بغیر،یو لیډر اخلاقی او روحانی غلطیاني کوی،چه هغه مشن ته نقصان رسوی. د اهم مهارت نه بغیر، لیډر په تسلسل سره خپل زوړ ځاي ته واپس کیږی یا زړي طریقي استعمالوی. اخرکار، لیډر سره علم،اخلاق،او مهارت وی ،خو د ترغیباتو د کمی د سببه په ړومبی حالت پاتي کیږی او خپل حالت محفوظ ساتی.

لیډرانو ته پکار دی چه د یو کار کولو دپاره د ضرورت اهم سامان یاد ساتی. دخپل امتیازی وخت په دعا کښي د تیرولو نه پس، هر لیډر ته د یو اهم بصیرت حاجت وی. بصیرت د سوال جواب ورکوی،" مخکښي به څه کیږی؟،،راتلونکی وخت دپاره څه پکار دی؟. لیډرانو لازمی پکار دی چه د راتلونکی کار مقصد او پیژنی. مقصد د سوال جواب ورکوی،" چه ولي دا ضروری ده؟،، د دِ سوال د جواب نه د خبریدو سره ډیر لیډران د مشکلاتو په وخت رهنمائ اخلی. بل، لیډران خپل

مشن او پیژنی. الله پاک خلق په یو معاشره کښې ځکه راجمع کوی چه دوی د هغۀ په مرضئ لاړشی. مشن د سوال جواب ورکوی" چه څوک ورکښې شاملول پکار دی؟،،اخر کار،ښۀ لیډران واضحه او جامع مقاصد پسې ځی. مثالی توګه باندې،یو لیډرخپل بصیرت،مقاصد،او مشن د څلورو نه تر پینځۀ مقصدونو حاصلولو د پاره وړاندې کوی. مقصد د سوال جواب ورکوی،،مونږ به دا څنګه کوؤ.

مونږ دا معلومه کړې ده چه لیډران په ټولګو کښې ضم کول څومره ګران کار دې. الله پاک به همیشه تا په حیرانتیا کښې اچوی چه ته ې د چا سره خوښ کړې یې. د ټولو نه زیات فائده منده رسائ دا ده چه یو کس سره که هغه د وړاندې نه لیډر یا لیډره وی ښۀ سلوک اوکړې شی. یو کس یا کسه د خپل ځان ښۀ رهنمائ کولې شی،خو دا بیا هم رهنمائ ده. خلق براه راست زمونږ د توقع مطابق ډیر ښۀ لیډران جوړیدې شی. هر کله چه مونږ خلقو سره د پیروکارو په شان سلوک کوؤ، نو هغه پیروکار جوړیږی. هر کله چه مونږ خلقو سره د لیډرانو په شان سلوک کوؤ نو بیا هغه لیډران جوړیږی.یسوع مسیح د هر طبقې د سوسائټئ نه انتخاب کوی چه دا اوښائ چه د ښۀ لیډرشپ دارو مدار د هغۀ سره د تسلسل په وجه دې،نه چه اکثر خلق ظاهری علامات تلاش کوی. مونږ ته د لیډرانو کمې ولې دې؟ځکه چه موجود لیډران نوی خلقو ته د رهنمائ موقعې ورکولو نه انکار کوی.

څو عواملو د الله پاک تحریک د ښۀ لیډرشپ د کمی د وجې په قلار کړې دې. افسوس چه،مونږ په ډیرو داسې ځایونو کښې د لیډرشپ بیشمیره خلاء ده مونږ ډیرو خلقو ته تربیت ورکړو(چه پکښې امریکا هم شامله ده). خدائ لیډران په معاشره کښې د سلام،امن،بخشش،درستګی طرف ته یو لاره د ه. لاندې د البرټ ائن سټائن یو مشهور قول دې: مونږ خپلې موجوده مسلې د موجوده لیډرشپ په ذریعه نه حل کولې:. الله پاک د ډیرو نوؤ لیډرانو خپل ځان طرف ته مائل کولو دپاره د یسوع مسیح دتربیت طریقه استعمالوی. مونږ دا دعا کوو چه هغه شان ستاسو دپاره اوشی. الله د اوکړی چه د هرې زمانې عظیم لیډر ستاسو زړۀ او دماغ د روحانی بخشش نه ډک کړئ، تاسو مضبوط کړی،او ستاسو اثر خور کړئ -_ د لیډرشپ اصل ازمائش.

# دویمه حصه

# د لیډرشپ تربیت

# 1

# ستړي مه شئ

د تربيت ورکونکی او د ليډر تعارف په ړومبی سبق کښي کيږی. بيا ليډر په يونانی او عبرانی ژبه کښي د تربيت طريقو کښي تمېز کوی. يسوع مسيح دواړه طريقي استعمال کړی او مونږ هم دغسي کوؤ. د ليډرانو دتربيت په طريقو کښي د عبرانی طريقه ډيره سود منه ده. او دا اکثر د پوخ ليډر د تربيت دپاره استعماليږی.

د سبق مقصد ليډرانو د پاره د يسوع حکمت عملی باندي ځان پوهه کول او بيا دنيا ته ځان رَسَول دی. د يسوع د پينځهٔ حکمت عملو کښي شامل: په الله پاک پوخ يقين ساتل، تعليمات نورو ته رسول، مريدان جوړول، ټولګی شروع کول چه روستو بيا په ګرجو کښي بدل شی،او د ليډرانو تربيت. په ړومبئ حصه نظر ثانی اوکړئ چه منونکی د يسوع دحکمت عملئ هره حصه په ښهٔ طريقي سره اومنی. ليډران دِ هم د بصيرت مظاهره اوکړی او ديسوع د حکمت عملۍ دِ پيروی اوکړی،چه نورو د پاره يو نمونه او ګرځی. د دِ دور خاتمه د دِ خبري سره کوؤ چه د يسوع دِ روزانه پيروی اوشی او د هغهٔ حکم د اومنلي شی.

# حمد و ثناء

- دوه حمدونه یا تعریفی نغمي دِ په یو ځاي اووئیلي شی.
- یو معزز لیډر ته اووائ چه هغه د تربیتی سیمنار دوران داالله پاک دموجودګې او د رحمت د پاره دعا اوکړی.

# شروعات

## د تربیت ورکونکی تعارف

- تربیت ورکونکی او لیډران د په شروع کیدوپه وخت کښي د یوي دائري په شکل کښي کینی.غیر رسمی ماحول پیدا کولو د پاره دِ د وړاندي نه موجود څیزونه لري کړی.
- تربیت ورکونکی دِ نمونه پیش کړی چه لیډران به هغوی سره خپل تعارف څنګه کوی.
- تربیت ورکونکی او تربیت اخستونکی دِ یو بل سره خپل تعارف اوکړی. هغوي د یو بل ته خپل نومونو اوښائ او دیو بل خاندان په حقله، د اخلاقی ټولګی،او د هغي طریقي معلومات حاصل کړی چه االله پاک تیره شوي مباشتي په ټولګو خپل رحمت کړي وو. او هر کله چه هغوی رهنمائ کوله.

## د لیډرانو تعارف

- لیډران په جوړو کښي تقسیم کړئ.

د خپل ملګری تعارف داسي اوکړئ لکه څنګه ما او زما نه تربیت حاصلونکو کړي اوو.

- هغوي د یو بل ته خپل نومونو اوښائ او دیو بل خاندان په حقله، د اخلاقی ټولګی،او د هغي طریقي معلومات حاصل

کړی چه الله پاک تیره شوي مېاشتي په ټولګو خپل رحمت کړي وو، ضرور یاد ساتل پکار دی چه د هغوی حوصله افزائ اوکړئ او هغوی معلومات په خپلو سټوډنټ نوټ بکس کښي اولیکی د پاره د دِ چه دوی نه بیا دا هیر نه شی هر کله چه دوی د خپلو ملګرو تعارف کوی.

- تقریبا پینځهٔ منټه بعد د لیډرانو جوړو ته اووایئ چه هغوی خپل تعارف، او کم ازکم د خپلو پینځهٔ ملګرو تعارف بلکل هغه شان اوکړی لکه څنګه چه تاسو د خپلو ملګرو تعارف کړي وو.

## یسوع مسیح به د لیډرانو تربیت څنګه کوۀ؟

- لیډرانو ته اووایئ چه خپلي کرسئ په قطار کښي کیږدی. دا د سبق د ښودلو روایتی طریقه ده. هغوې دِ کم از کم دوه قطاره ساز کړی چه د مینځنئ ستني پوري وی.

لیډران د په قطارونو کښي ناست وی او تربیت ورکونکی د مخامخ ولاړ دی. مونږ دي ته یونانئ طریقه وایو، استاد دعلم تبادله کوی او شاګردان تپوسونه کوئ. او هر یو کس د ټولو نه مخکښي خپل استاد مخاطب کوی. په روایتی طریقه بندي د ماشومانو د پاره استاد دغه شان کلاسونه منظم کوی .

- لیډرانو ته اووایئ چه هغوی خپلي کرسئ په دائره کښي بلکل هغسي کیږدی څنګه چه هغوی د سیشن په اغاز کښي ایښي وی. لیډرانو او تربیت کونکی دِ د یو ګول دائري په شکل کښي یو ځاي کینی.

مونږ دِ ته د عبرانئ طریقه وایو. استاد چه سوالونه تپوسی، شاګردان په مضمون بحث کوی او هر یو کس به هغه مخاطب کوی کوم یو چه خبري کوی. نه چه صرف استاد. استاد دا طریقه هغه وخت اختیاره وی کله چه هغه بالغانو ته سبق ښائ. یسوع مسیح کومه طریقه اختیار کړي وه؟

- شاګردانو ته اجازت ورکړئ چه هغوی په سوالونو بحث اوکړی او بیا اووائ ،،دواړه،، یسوع مسیح به یونانی طریقه

اختیاروله هر کله چه به هغهٔ ډیرو خلقو ته خپله خبره کوله نو عبرانی طریقه به ئي اختیاروله کله چه به شاګردانو ته دوی د لیډرانو په طور تربیت ورکولو.

" استاذان کومه طریقه د ټولو نه زیاته استعما لوی؟،،

- استاذان اکثر یونانی طریقه اختیاره وی. د نتیجي په طور مونږ په داسي ماحول کښي اسانی محسوس کؤو.

" دَ دِ تربیتی دورنو په وخت مونږ دا ښایو چه لیډرانو ته په کوم وخت تربیت ورکړي شی، څنګه چه یسوع مسیح ورکړي وو. د پوخ لیډرانو د تربیت سیشن زیات تر په عبرانی طریقه کولي شی ، یسوع هم دغه طریقه اختیاد کړي وه کله چه به هغهٔ د لیډرانو تربیت کولو.

# منصوبه

"په د سبق کښي زمونږ د ټولونه غټ مقصد د یسوع حکمت عملی زده کول دی، چه د هغهٔ پیروی اوکړي شی.،،

## ګرجا څوک جوړه وی؟

میتهیو 16:18-
اوس زهٔ تاته وایم چه ته پیټر یئ(چه غونډئ معنه لری) او د هغه غونډئ په سر به زهٔ خپل چرچ جوړومه او د دوزخ ټول طاقت هم د هغي سرته نه شی رسیدي.(NLT )

،،هغه یسوع اوو چا چه خپله ګرجا جوړه کړي.،،


## هغه ولي ډير اهم کس دي څوک چه ګرجا جوړه وی؟

– 127:1-PSALM
کله هم چه يو ليډر يو کور نهٔ جوړه وی نو د مزدوران محنت په کار نه راځی؛:هر کله چه مالک په ښار نظر ساتی نو چوکيدار ضرور څه نه څه بيدار اوسی.

کله چه يسوع ګرجا نه وه جوړه کړي هغه وخته پوري زمونږ کار عبث اوو. يسوع د زمکی د وزارت او د ګرجي په تاريخ کښي ګرجا جوړولو کښي د ډير لوي حکمت عملۍ نه کار اخستي اوو. راځئ چه دا حکمت عملی زده کړو او مونږ دهغهٔ پيروی او کړي شوؤ.

## يسوع خپله ګرجا څنګه جوړوله ؟

- لاندينى ورکړي شوي شکل حصه په حصه راکاږئ ،خو تاسو د يسوع حکمت عملی خوره کړئ چه غږ يي دنيا ته اورسی.



# په الله پاک پوخ یقین ساتل

لوک 2:52 -
یسوع عقل مند شو، او هغه مضبوط شو. الله پاک دهغه نه راضی اوو او دا حالت د خلقو هم وو.

لوک 4:14 –
(د خپل رسالت نه پس ) یسوع د پوره زور طاقت سره ګلیلی ته واپس راغي او دهغۀ راتلو خبر خواؤ شا بانډو کښي خور شو.(NASB)

د یسوع د حکمت عملئ ړومبي تر کیب په الله پاک پوره او پوخ یقین ساتل دی. روحانی لیډرشپ د الله پاکه او نزدي رشتي ساتلو باندي منحصر ده. چه مونږ مضبوط شو نو مونږ به د یسوع پیروی لازمی کوؤ.

✋ په الله پاک پوخ یقین
لاسونه اوچت کړئ او د یو پوخ سړی په شان اودریږئ.

څنګه چه دا ښکاره ده چه مونږه یسوع منو، مونږله دعا غوښتل پکار دی چه مونږ له د هغۀ حکم هم منل په پکار دی.

- او مونږ د هغۀ په مشن کښي دهغۀ سره یو،او یسوع سره هلته ملاؤ شئ چرته چه هغه کار کوی. دَدعا ،تابعداریٔ، تللو سبقونه دلاسونو د حرکاتو سره د یسوع د تربیت د پیرویٔ ړومبئ حصه ده: پاخۀ مریدان جوړه وی.:

دا سبق مونږ ته دا تربیت راکوی چه یسوع په کومه طریقه اومنلي شی. دا زمونږ مدد کوی چه مونږ د نورو تربیت اوکړو او هغوی هم یسوع اومنی. په اقا باندي کامل ایمان د یسوع حکم منل دی. دیسوع باقی حکمت عملی ،حکم فورا او هر وخت د زړۀ دننه منلو باندي شامل دی.

# د تعليماتو خورَول

مارک 1:14,15-
روستو چه جان گرفتاره شو،يسوع گليلى ته لاړو او هلته هغۀ د الله پاک ښۀ خبري واؤرولي.،،اخر کار د الله پاک د کړي وعدي وخت راغي، هغوى اعلان اوکړو چه د الله بادشاهى نزدي ده! په خپلو گناهونو پښيمانه شئ او په ښۀ خبرو يقين اوساتئ.(NLT)

،، مونږ د روح او د دعا په حالت کښي په الله پوره يقين کوؤ. يو بله ذريعه چه مونږ د يسوع حکم منلو سره په الله پاک پوره يقين لرو. يسوع مونږ ته حکم راکوى که هغۀ سره ملاويدل غواړئ نو هلته لاړ شېئ کوم ځاي چه هغه کار کوى او ښۀ خبر خور کړئ.

تعليمات خوارۀ کړئ
خپل ښئ لاس ته داسي حرکت ورکړئ لکه چه تاسو تخم شيندئ.

د ډيرو خلقو دپاره، چه الله پاک هغوى څنگه بچ کړل کوم تعليمات خورول او هغوې ته ښۀ دشروعات ښۀ ځايونه ورکړه څوک چه نورو خلقو ته د ښۀ خبرو پيغام ورکوى.خلق زمونږ خبري په شوق سره اورى او زمونږ د قيصو نه مزه اخلى. زمونږ تعليمات خورول مونږ ته اجازت هم راکوى چه گورئ که چري پاک روح کار کوى نو بيا هلته شامل شئ.

کله چه مونږ گورو چه کوم ځاي الله پاک کار کوى، نو بيا مونږه ساده تعليمات خوروؤ. په ډير اختياط سره د تعليماتو تخم نال کوئ. ياد ساتئ :چه تخم نه وى نو فصل د کومي!،،

- د يسوع د تربيت پيروى :ړومبئ حصه پاخۀ ليډران جوړولو کښي په تلو، خورولو او کرولو يا نالولو سبقونو نظر ثانى اوکړئ.

په دِمقام به د شیطان په هیڅ قسمه جال کښې ځان نه غورزوي. ډیر عقیدت مند په غلطئ سره دا سوچ کوی چه دتعلیماتو د خورولو نه وړاندې هغوی په الله پاک پوخ یقین ضروری دي. دوی دا نه محسوسئ چه مخالف رشتوني دي. د یسوع د حکم منلو نه روستو زمونږ یقین پخیږی نه چه وړاندې. د یسوع د حکم اطاعت اوکړه او تعلیمات یې خوارهٔ کړه نو بیا به ته په خپله عقیده کښې مضبوط شې. که چرې ته دا انتظار کوې چه مضبوطی بس شته ، نو بیا ته هیچرې خپله عقیده نه شې خورولې.،،

## مریدان جوړول

میتهیو 4:19-
،،راشئ، زما پیروی اوکړئ،، یسوع فرمائلی، او زهٔ به تا د انسانانو ماهیګیر جوړ کړم.،،

ځنګه چه مونږه یسوع منو، او د هغهٔ تابعداری به کوؤ دهغه دا حکم چه تعلیمات خوارهٔ کړئ، خلق به جواب را کوی او مونږ د عقیدت مندو په شکل کښې ډیریدل غواړو.،،

- مریدان جوړ کړئ
لاسونه په سینه کیږدئ او بیا عبادت ته توجه ورکئ. لاسونه په نرئ ملا کیږدئ او بیا د کلاسک دعا شکل جوړ کړئ. لاسونه دماغ طرف ته یو سئ او بیا لاندې یوسئ لکه تاسو یو کتاب لولئ. لاسونه بره اونیسئ لکه د پهلوان سړی شکل چه وی،او بیا جارو کش شکل جوړ کړئ لکه چه تاسو تخم شیندئ.

د ټولو نه اهم حکم منل د الله او د مخلوق سره مینه ساتل دی. مونږ و یسوع نوؤ پیروکارو ته ښایو چه دا مشقی طریقه به ځنګه کوؤ. مونږ هغوی ته دا هم ښایو چه دعا به ځنګه غواړو او او یسوع حکم به ځنګه منو، د روح سره روان ، کوم ځای چه یسوع کار کوی هلته تلل،د هغهٔ تعلیمات خورول او دهغهٔ ساده تعلیمات خورل، نو هغوی بیا په الله پاک پوخ یقین هم لری.

- د یسوع د تربیت په پیروئ ړومبي حصه پاخهٔ مریدان جوړول: دلاسو په اشارو سره د میني د سبق جائزه واخلئ.

## 7ټولګی او ګرجي شروع کړئ

میتهیو 16:18 –
زهٔ دا هم وایم چه ته یو پیټر یي، او د دِ غونډئ په سر به زهٔ خپله ګرجا جوړومه: او هیډیس دروازي به په د زوره وري نه وی.

ځنګه چه مونږه د یسوع حکم منو او تابعداری کوو، مونږ تعلیمات خوروؤ او مریدان جوړوؤ. بیا، مونږه د یسوع پیروی کوو،مثالونه ورکوؤاو دعبادت ټولګی شروع کوو،سبق وایو،او وزیران یو ځاي کوؤ. یسوع د خپلو ګرجو د مضبوطو لو د پاره دا قسمه ټولګی په ټوله دنیا کښي شروع کوی، او دخپل شان وشوکت دپاره د نوی ګرجو په جوړولو کښي مدد کوی.

✋ ټولګی او ګرجي شروع کول
لاسونه خپل داسې یو ځاي کړئ لکه چه تاسو د خلقو د جمع کولو د پاره اواز کوئ.

## لیډرانو ته ترقی ورکړئ.

میتهیو 8-10:5 –
د لاندینی هدایاتو سره یسوع دا دولس پیغامونه رالیږلی دی: د جاهله کسانو په مینځ کښي به نه ځئ یا د سماریټان کومه قصبه چه وی هغي ته ننوځئ. د اسرائیل ورکه شوي ګډي پسي لاړشئ. او کله چه تاسو ځئ نو دا پیغام خوره وئ: ،د اسمان بادشاهی نزدي ده.،بیماری روغه کړئ، مرده پاسه وئ، هغه خلق پاک کړئ چا ته چه برګي مرض دي،شیطان او باسئ، په اسانئ سره چه څه تاسو موندلئ دي، په اسانئ سره یي ورکړئ.

هسي هم مونږ یسوع منو،بس مونږ ته پکار دی چه د هغۀ
سره د میني اظهار د هغۀ د احکاماتو په پیروئ سره اوکړو.
مونږ تعلیمات خوروؤ نو کیدي شی چه ضایع شوی خلق
واپس د الله پاک خاندان ته راشی. مونږ مریدان جوړه وؤ
څوک چه د الله پاک د هغۀ د مخلوق سره مینه کوی. مونږ
ټولګی شروع کوؤ څوک چه عبادت، دعا،لوستل،او وزیر یو
ځاي کوی. نور ټولګی دنورو لیډرانو ضرورت زیاته وی. په
دویم ټائمودی ( Timothy) 2:2 د 222 د اصول په پیروئ
سره، مونږ لیډرانو ته تربیت ورکوؤ،هغوی لیډرانو ته تربیت
ورکوی،هغوی نور لیډرانو ته تربیت ورکوی.،،

👋 لیډرانو ته ترقی ورکړئ
ویخ اودریږئ او لکه د فوجی سلیوټ/سلام اوکړئ.

- د خپل لاسونو حرکت سره د یسوع د تربیت پیروئ ړومبئ حصه،پاخۀ مریدان جوړولو د زیاتولو د جائزه واخلئ.

مهرباني اوکړئ چه د یسوع د حکمت عملئ عام بد ګمانئ نه
ځان اوساتئ. ډیر عقیدت مند متواتر د دِ حکم د تعمیل کوشش
کوی. ړومبي هغوی سوچ کوی،چه مونږه به اول د تعلیماتو
پرچار کوؤ،بیا،به مونږ مریدان جوړه اوؤ، اودهغه شان به
جاری وی. یسوع، بهرحال،مونږ ته دا ښودلی دی چه په
هر خاي کښس به د ټولو احکاماتو تابعداری کوئ. د مثال په
توګه،څنګه چه مونږ تعلیمات خوره اوؤ،نو دغه رنګي مونږ
یو کس ته دا تربیت ورکوؤ چه یسوع پیروی به څنګه کوی.
څنګه چه مونږ مریدان جوړه اوؤ، نو دغه شان مونږ د نوی
عقیدت مندو د موجوده یا د نوی ټولګی په تلاش کښي مدد
کوؤ. په شروع کښي مونږ د روحانی لیډرجذباتی عادتونه
وړاندي کوؤ،دا په پینځۀ حصوو مشتمله حکمت عملی دا بیانه
وی چه یسوع خپله ګرجا څنګه جوړه وی.

مریدان د یسوع حکمت عملی په اولنی چرچ کښي بیانه وی.
پاول دا حکمت عملی په خپل مشن کښي د ښه والی دپاره

نقل کړي ده. کامیاب روحانی لیډرانو د ګرجو په ټول تاریخ کښي بلکل دغه شان کړي ده.کله چه لیډران د یسوع د حکمت عملئ په وجه دنیا ته اورسیدو نو الله پاک په باقي ملکونه په خصوصی توګه رحم اوکړو. مونږ له د یسوع د حکمت عملئ پیروی کول پکار دی،او بیا د الله پاک جمال په د ملک کښي اګورئ.،،

## یاد ګاری باب

1 کورینتهینز 11:1-
په ما یقین اوکړئ،چه زۀ هم د عیسائیانو نه یم.(NAS)

- دمرض نه د جوړیدو ،هلته ځوک دی او هغوی ته اووایه،چه دالله بادشاهی نزدي ده.،، هر یو د پاسی او دا یادګاری باب د لس ځله په شریکه اووائ. ړومبی شپږ ځله دِ د بائیبل یا د طالب علم د نوټ بک نه اووائ. اخری څلور ځل د دا باب په یادو اووائ. دباب ویلو نه د وړاندي هره پیره د باب حواله ورکړی او چه کله ختم شی نو بیا د کینی.
- په د طریقه تربیت ورکونکی پیژنی چه کوم یو ټولګی سبق د مشق سره په د حصه کښي ختم کړو.

# مشق :-

اوس راځئ چه مشق اوکړو چه مونږ.ه د یسوع د حکمت عملئ نه دنیا ته د رسیدو د پاره څه زده کړل. مونږ به خپل نمبر د یسوع حکمت عملئ خپل مینځ کښي تبادله کوؤ. او بیا به مونږ نورو ته د ښودلو په خپل ځان کښي حوصله پیدا کوؤ.

- لیډرانو ته اؤوائي چه په جوړو کښي تقسیم شی.

د کاغذ یو ورق واخلئ.کاغذ په مینځ غونډ کړئ. اوس،بیا دا مزېد په مینځ غونډ کړئ لکه څنګه چه ما تاسو ته ښودلي وُؤ.

دا به تاسو ته د يسوع و حکمت عملی د تصوير جوړلو د پاره ځلور حصې درکړی کله چه تاسو دا واپس خور کړئ.،،

- ليډرانو ته اووائي چه د يسوع د حکمت عملئ د تصوير جوړلو دا مشق يو بل ته په وضاحت سره او ښائ. دواړه ليډران د حکمت عملئ دا تصوير په يو وخت جوړ کړی. صرف يو کس دِ د وضاحت کار په لاس واخلی. ليډرانو ته ضرورت نه شته چه هغوی د مريدان د جوړولو دسبق جائزه واخلی کوم وخت چه دوی دا تصوير جوړه وی.
- کله چه ړومبي کس په جوړه کښي ديسوع د حکمت عملئ د تصوير د وضاحت کار ختم کړی نو بيا دِ دويم کس هم هغه شان اوکړی. دواړه ملګری دِ په دويمه پيره يو نوي تصوير جوړ کړی. بيا ملګری له پکار دی چه پاسی د دا ياد ګاری باب 10 لس پيري اوواي،دهغي نموني په شان کومه چه تاسو ته مونږ په شروع کښي ښودلي وه.

،،کله چه تاسو تصوير دوه ځله جوړ کړئ او يادګاری باب لس ځله د خپل ړومبی ملګری سره اوواي،نو بيا يو بل ملګري تلاش کړئ او د دِ سبق دا مشق بلکل د ړومبی په شان اوکړئ.

او هر کله چه تاسو دا مشق د دويم ملګری سره هم ختم کړئ نو بيا يو بل ملګري او ګورئ.

او ديسوع د حکمت عملئ دا مشق هغي پوري جاری اوساتئ تر څو چه تاسو دځلورو مختلفو کسانو دنيا ته اورسئ.

هر کله چه ليډران داسرګرمی ختمه کړی، نو بيا هغوی ته پکار دی چه د کاغذ مخه او شا ډکه کړی د يسوع د حکمت عملئ د اتۀ 8 تصويرونو سره.

# اختتام

## يسوع واي ،،زما پيروی اوکړئ،،

ميتهيو 9:9-
څنګه چه يسوع د دِ ځاي نه لاړو، نو يو سړي اوليدو چه د هغهٔ نوم ميتهيو اوؤ او د ټيکس جمع کولو په کمره ګئ کښي ناست اوو. ما پسي راځه، هغهٔ هغي سړی ته اووي او ميتهيو پاسيدو او او هغهٔ پسي روان شو.

ټيکسونو جمع کولو والا خلق د يسوع په زمانه کښي ډير حقير خلق ګنړلي شول. هيچاته دا يقين نه وو چه يسوع به ميتهيو رابلی ځکه چه يو ټيکس جمع کولو والا وو.

يسوع په حقيقت کښي مونږ ته دا ښودل چه د تيري زماني په نسبت به موجوده زماني خيال ډير ساتي. تاسو له دا سوچ کول پکار دی چه الله پاک ستاسو په ژوند کښي کار نه شی کولي ځکه تاسو د ډيرو ګناهونو شکار يي. تاسو له د تيري شوي زماني په تبصرو شرم پکار دي. ښهٔ خبرونه دا دی،چه الله کوم کس اوغواړي نو ديسوع په پيروئ يي اولګه وی. الله پاک په غور سره خلقو ته ګوری،څوک چه په رضا کارانه طور باندي هغه منی او اطاعت يي کوی.

کله چه مونږ د چا پيروی کؤؤ، نو دهغهٔ يا د هغي نقل کؤؤ. يو زير تربيت کس د خپل مالک نقل کوی چه د خپلو استاذانو په شان هنر زده کړی.

مونږ ټول د چا نقل کؤؤ. د کوم کس چه مونږ نقل کؤو مونږ د هغهٔ کس په شان جوړليدل غواړو. د يسوع د تربيت د اطاعت مقصد دا دي چه څنګه مونږ د هغهٔ نقل اوکړو. مونږ زيات نه زيات يقين اوساتو او د هغهٔ نقل اوکړو نو مونږ به د هغهٔ په شان جوړ شو. پس په دِ تربيت کښي مونږ د ليډرشپ نه تپسونه

کوؤ،د بائيبل لوستل کوؤ،دا معلومات واخلو چه يسوع به دخلقو
ښنګه رهنماي کوله،او د هغهٔ دپيروئ مشق اوکړو.

- د ټولګی يو معزز ليډر ته اووايي چه سبق درحمت د دعا
ګانو سره ختم کړئ او د يسوع د حکمت عملئ د پيروئ
دنيا ته رسولو دپاره ځان وقف کړی.

# 2

# د یسوع مسیح په شان تربیت

د ګرجو او د ټولګو په پر مختګ کښي د عام مسائلو مخ نیوي د پاره د نورولیډرانوضرورت دي. د لیډرانو د تربیت د پاره کوششونه اکثر کم پریوزی ځکه چه زمونږ سره د پیروئ یوه ساده طریقه نه شته. د دِ سبق د ښودلو مقصد چه یسوع به لیډرانو ته څنګه تربیت ورکولو، یس مونږ له د هغهٔ په نقش قدم تلل پکار دی.

یسوع به لیډرانو نه په مشن کښي د پر مخ تګ تپوس کولو، او که لیډرانو ته به څه مسائل راتلل نو د هغي باره کښي به یي بحث کولو. هغهٔ به دهغوی د پاره دعا هم کوله او د مشن د منصوبي جوړولو کښي به یي ورسره مدد کولو. د هغهٔ د تربیت یو اهم حصه د مهارت مشقونه اوو چه د هغوی د راتلونکی وخت د وزارتونو ضروریات وو. په سبق نمبر 2 لیډران د لیډرشپ د تربیت طریقه کار د خپلو ټولګو دپاره په کار راولی،هو به هو د یسوع حکمت عملی دنیا ته رسَول دی.اخرکار،لیډران د،، تربیت ونيِ،، ته ترقی ورکوی او د تربیت په جوړخت کښي مدد کوی او د تربیت د لیډرانو دپاره دعا ګاني کوی.

# حمد و ثناء

- دوه عبادتی سندري په جمع اووايي. يو ليډر ته د دِ سيشن د دعا دپاره خواست اوکړئ.

# ترقي

- د تربيت يو بل ليډر ته د دري منټو مختصر دتعليماتو خورولو خواست اوکړئ چه الله پاک د هغهٔ يا د هغي ټولګی باندي رحم اوکړی. د ليډر د تعليماتو خورولو نه پس، ټولګو د هغهٔ يا د هغي دپاره د د عا خواست اوکړئ.

# مسائل

دګرجو او ټولګو پيژندګلو دپاره د زياتو ليډرانو حاجت وی،خو ډير څلي هغوی دا نه پيژنی چه يو کس ته څنګه تربيت ورکړي شی. موجوده ليډران زياته زمه واری اخلی او تر هغي پوري کار کوي تر څو چه دوی پاخهٔ شوی نه وی. پيروکار ليډرانو نه دزيات کار غوښتنه کوی او کم از کم هغه وخت کار پريږدی چه پوره شی.ګرجي او ټولګی په هر ثقافت او هر ملک د متواتر مسائلو شکار دی.،،

# منصوبه

مونږ دا زده کولي شو چه جذباتی او روحانی ليډرانو ته تربيت ورکړو. او د دِ سبق مقصد دا دي چه يسوع به خپل ليډرانو ته څنګه تربيت ورکوؤ، پس مونږ دِ هم هغهٔ نقل اوکړو.،،

# جائزه

پخیر راغلي
ګرجا څوک جوړه وی؟
دا ولي ضروری ده؟
یسوع مسیح خپله ګرجا څنګه جوړه کړي وه؟
په الله پاک پوخ یقین ساته.
تعلیمات خوارهٔ کړه.
مریدان ساز کړه.
ټولګی او ګرجي شروع کړه.
لیډرانو ته ترقی ورکړه.

کورینتهینز 11:1 –زما په شان شئ څنګه چه زهٔ د یسوع په شان یم، د یسوع په شان ښودنه اوکړئ.

## یسوع مسیح به لیډرانو ته څنګه تربیت ورکوو؟

10:17 لیوک
هر کله چه دوه اویا(72)مریدانو واپسی اوکړه نو هغوی په ډیره خوشحالئ سره دا خبر بیان کړو چه کله مونږ ستا نوم واخستو نو شیطان هم زمونږه تابعداری شروع کړه.

## ترقی:-

هر کله چه د یسوع مریدان د خپل مقصد نه واپسېی اوکړه او کومي کامیابئ چه هغوی حاصلي کړي وي بیان ي کړي بس دهغه رنګي مونږ خپل رهنما سره خبره اوکړه چاچه مونږ ته تربیت راکوو. مونږه هغه کښي ذاتي دلچسپی واخسته ،چه د هغه خاندان څه کوی او څنګه هغه د خپل عیسائیت په کار کښي پرمخ تګ اوکړو.

17:19 ميتهيو.
د هغي نه روستو مريدانو په خپله د يسوع مسيح نه تپوس اوکړو،چه شيطانانو ته ولي په خپل مذهب کښي کردار نه ورکوو؟

## مسائل:

مريدانو ته د خپل عيسائت په مذهب کښي او د راهبئ په کار کښي ډير مشکلات مخي ته راغلل،او هغوی د هغوی د يسوع مسيح نه مدد اوغوښتلو او تپوس ي ترنه اوکړو چه مونږه ناکامه ولي شو؟ دهغه شان مونږه هم خپلو ليډرانو ته وايو چه هغوی خپل مشکلات يو بل ته بيان کې کوم چه د هغوی مخي ته راځی،هم دا وجه ده چه مونږه خپل مشکلات د حل کولو دپاره د الله پاک ته مخي ته پيش کوو.

مسائل:
خپل لاسونه د خپل سر په دواړو طرفونو کيږده او دا سي ظاهره کړه لکه چه خپل ويښتي راکاږي.

10:1 ليوک:
د دِ نه پس أقا د دوه اوياوو( 72) کسانو انتخاب اوکړو او دوه دوه( 2،2 ) ټولګی ي ساز کړل او په خپله د هغوی مشری واخسته او هر کلی او هر ځاي ته لاړل چرته چه تلل اوو.

## منصوبه بندي:

يسوع مسيح خپل مريدانو ته د خپل مقصد تر لاسو کولو د پاره ساده،روحانی او د حکمت نه ډکه منصوبه ورکړه.بلکل د هغه په شان مونږه هم د خپلو ليډرانو مدد کوو . او د راتلونکی

مقصد د حاصلولو د پاره منصوبه بندی کوو.کوم چه ساده وی
او په االله پاک انحصار کوی.او هغوی ته د پیخو مسْلو باندي
خطاب کوی.

منصوبه:
خپل ګس لاس د کاغذ په شان خور کړه او په ښي لاس
په هغه اولیکه.

⌖

4:1-2 جان _
یسوع مسیح ته معلومه شوه چه فراسیسز(د عسایانو
یو ټولګي) واوریدل هغو د جان نه زیات عیسایان او
خپل مریدان جوړول. اګر چه یسوع مسیح پخپله هغوی
عیسایان نه وو جوړ کړی بلکه د هغوی مریدانو جوړ
کړی وو.(این ایل ټی)

## مشق:

کله چه ددِ خبري پته لګیدو نه پس چه نوی خلق یسوع مسیح
نه د هغوی مریدانو عیسایت ته راړولی اوو.ډیر لیډران حیران
پاتي کړل.دهغه شان د یسوع مسیح د ډیر مثالونو نه پتخ لګی
چه هغه خپل مریدانو ته اجازت ورکړي وو چه د هغه د ځنت
د تلو نه پس به هم د هغه کار هغسي جاری ساتئ. دهغه شان
مونږه هم خپل لیډرانو ته د خپلي هنرمندئ د ښودلو موقع
ورکوو، ځکه چه کله هغه خپلي ګرجي ته واپس ځی نو دا هنر
بیا د هغه پکار راځی.مونږه هغوی ته یو محفوظ ځاي ورکوو.
چه عملی ښودنه او کړی غلطیاني کوی او اعتماد حاصلوی.

مشق:
خپل لاسونه لاندي او بره یوسئ ځنګه چه تاسو وزن
اوچته وئ.

22:31:32 -ليوک :
يسوع فرمايلئ دی َسمن زما خبره واوره سيطان د خپل حق مطالبه کړي ده او په تاسو کښي د هر يو امتحان واخلی.چنګه زميندار د غنمو نه بهوس څان له کوی.خو سمن ! ما دا دعا کړي ده چه ستا عقيده به پخه وی. او ما ته د راتلو نه مخکښي د خلقو مدد او کړه.

## دعا:

يسوع ته د مخکښي نه دا پته وه چه پيټر به غلطياني کوي. او هغه به څوک ضرور لمسوی چه خپل کار پرېږدی.يسوع مسيح ته دا هم پته وه چه دعا د کاميابئ چابی ده.او د الله پاک په اطاعت کښي پوخوالي او کاميابی ده.د هغه چا د پاره دچا چه مونږه رهنمائ کوو او دعاد ټولو نه پخه وسيله ده.

دعا:
په روايتی طريقه سره لاسونه يو ځاي کول او بيا مخ ته وړل دی.

## ياد ګاری أيات \باب:-

لوک 6:40-
يو مريد په مرتبه کښي د خپل استاد نه اوچت نه وی خو چه مکمل طريقه باندي تربيت شده وی نو بيا استاد په شان وی.

- هر يو کس پاسی او پاک ايات لس پيري لولی،ږومبئ شپږو پيرو د پاره هغوی د بائيبل نه يا د طالب علم د کاپئ نه کار اخلی.او اخيری څلور پيري په يادو اړوي.او هر يو د دوباره وئيلو نه مخکښي هره پيره د دِ ايات حواله ورکوی.او چه هغه دا ختم کړی نو ليډر به هغه ته د کيناستو حکم ورکوی.

- دهغه شان په دِ طریقه تربیت احستونکو ته مدد ملاویږی او دا پته هم لګی چه کوم یو ټولګی مشقی طور باندي سبق ختم کړي دي.

# مشق:

- لیډران په څلور ټولګو کښي تقسیم کړه.
- لیډران د تربیتی عمل نه نمبر په نمبر تیروه او لاندینۍ ورکړي شوي حصي باندي د بحث کولو دپاره د اوو نه اتهٔ (8-7) منټو پوري وخت ورکه.

## جائزه\کتنه:

خلقو ته د رسیدو دپاره د یسوع مسیح د حکمت عملۍ هغه پینځه حصي کومي کومي دي؟

- د لیډرانو د جواب شانتي په سپین بورډ باندي یوه نقشه جوړه کړئ.

## پیش قدمی:-

د د نیا د قابو کولو د پاره ستا ټولګی ته د یسوع مسیح د حکمت عملۍ کومه حصه د دٌ ټولو نه أسانه ده؟

## مشکلات:-

د یسوع مسیح په حکمت عملۍ کښي د دنیا پیژندلو دپاره ستاسو ټولګو ته چه کوم مسائل مخي ته راغلل هغه یو بل ته بیان کړئ.د یسوع مسیح د عملۍ په کومي حصي باندي د عمل کولو ستاسو ټولګو ته مشکلات راغلی وو؟

## منصوبې.

راتلونکی(30) دیرش ورځو کښې چه تاسو له کوم کار کول دی او د هغې د پاره خپل ټولګې وړاندې کول وې یو بل ته او ښائې. کوم چه به د یسوع د حکمت عملۍ په زور ددنیا د پیژندو دپاره ډیره پکار راځی.

- هر یو کس له د خپل ملګری منصوبه یاد ساتل پکار دی چه روستو بیا د هغوې دپاره دعا اوکړې شی.

## مشق:

یو هغه هنرخلقو ته وړاندې کړه کوم چه به ته د یو لیډر په توګه ستاد ټولګې په ترقۍ کښې مدد کوې او بذات خود به دا مشق ته په راتلونکو دیرش 30 ورځو کښې کوې.

- هر یو کس د خپل ملګری د مشق أشیأ یاد لرئ ځکه چه هغوی بیا هغوی دپاره دعا اوکړې شی.
- د هغې نه روستو هر کس به د خپل هنر مندئ په مشقی طور مظاهره کوی.د ټولګو په سکل کښې به نمائندګان پاسی او دا یادګاری ایات به لس پیرې وایې.

## دعا :-

په خپلو وړو ټولګو کښې د یو بل د منصوبو د کامیابیدو دپاره ،او هغه هنر کوم چه به تاسو په راتلونکی 30 ورځو کښې د خپل ځان د لیډر د ثابتولو دپاره پیش کوئ وخت ورکړې


# اختتام :

## د تربيت ونه

تربيتی ونه د خلقو د منظم کولو او د دعا دپاره يوه فائده منه أله ده،مونږ د ليډرانو په حيثيت سره تربيت اخلو.

- په يو سپين بورډ باندي د يوي وني تنه،دهغي جړي او کرښه راکاږئ چه د ګياه حد اوښايٍ.

َ َ زۀ خپله تربيتی ونه داسي جوړل شروع کوم،اول يوه تنه بيا جرړي او اخره کښي ګياه . د بائيبل دوينا مطابق مونږ د عسائيت جرړي يو. ددِ وجي نه زۀ د هغه نوم دلته اچوم.دا نقشه زما تربيتی ونه ده زۀ د دِ په تنه خپل نوم لګوم.




- د جرړو لاندې حصه باندې د یسوع مسیح او ستا نوم په تنه لګوم.

یسوع مسیح د لیډرانو په تربیت کښې زیات وخت په درې کسانو صرف کړي اوو، پیټر، جیمز او جان زهٔ د هغه تقلید کول غواړم ځکه به د هغه په شان عمل کوم.الله پاک ما ته درې لیډران راکړی دی چه په هغوی باندې زهٔ د خپل تربیت وخت صرف کوم.

- د ونې نه یو خوا بل خوا درې کربښې راکاږه او د هر کربښې په سر باندې د هغو ټربیتی لیډرانو نومونه اولیکه.


یسوع مسیح درې کسانو ته تربیت او هغوی ته دا هم اخودل چه نورو ته به څنګه تربیت ورکوئ.که چرې یو کس نورو درې کسانو ته تربیت ورکی لکه د یسوع مسیح په شان،نو بیا ټول ټال مونږ ته دولس کسان ملاویږی.ډیر ښه، د یسوع 12 مریدان وو د مزې خبره ده که نه؟




- یخوا ،بل خوا او بره طرف ته کربښې راکاږئ او په هغې باندې دهغو درې تربیتې لیډرانو نومونه اولیکئ کوم چه د تربیت

دپاره مختص دي.د برنئ هري کرښي په سر باندي د هغه کسانو نومونه اوليکۀ چه ستاو اهم ليډرانو ته تربيت ورکوی. خپل تربیتی وني باره کښي چه څومره هم پاک روح والا قیصي ستاسو زړۀ ته راځی هغه یو بل سره اړوی. دَ ښاخونو باندي پانړي جوړي کړئ او خپله تربیتی ونه مکمل کړئ.

اوس څما زړۀ غواړی چه تاسو د خپلي تربیتی وني نقشه راکاړئ، تاسو له پکار دي چه د هغو خلقو نومونه اوليکئ د چا چه په عیسائیت پخه عقیده وی.مګر کوشش دا اوکړئ چه تا سو سره ستاسو په ونه دولس کسان درج وی.ړومبې دري ښاخونو باندي د هغو اهم لیيرانو نومونه وی د کوم چه تاسو تربیت کول غواړئ. د هر لیډر به دري ښاخونه وی چه هغه به د هغه په لیډرانو مشتمل وی.او دهغه لیډرانو ته د تربیت دباره وخت ورکول غواړی.




- هر کله چه لیډران د خپل تربیتي وني نقشه جوړوی نو لاندینی هر څه دِ یو بل ته اوښائ.

ما نه اکثر دا تپوس کیږی چه ما له لیډرانو ته څنګه تربیت ورکول پکار دی؟ د یسوع مسیح دا فرمان دي تپوس اوکړه نو

څه به زده کړي. کوم څيز چه ستا پکار دي أيا تا هغه غوښتي دي؟ دا تربيت به تاته هغه څه درکوی د کوم چه تاته د لیډرانو د تربیت د پاره ضرورت دي.


بعضِ خلق دا وائ چه زهٔ خو څوک هم نه پيژنم خو د يو لیډر په حیثیت سره تربيت ورکولي شم. یسوع مسیح فرمائلی دي چه کله څه ګوري نو هغه به درته ملاویږي.ایا تا چرته د تربیت دپاره خلق لټولی دی یا د هغوی په انتظار ناست يې چه تا له به راځی؟هغه وئیلی لټوه او د چا په انتظار مه کینه...

اوس هم څه خلق تپوس کوی، کله ما له لیډرانو ته تربيت ورکول پکار دی؟ یسوع مسیح دا فرمائیلی ری، چه ور ټکوه په خپله به درته کهولاویږی.ایا تا چرته ور ټکولي دي؟ الله پاک به مونږه به په سمه لاره راواړی هر کله چه مونږ د ښي عقیدي متعلق ړومبي قدم اوچت کړو.

زمونږ د تربيتی وني د نه کیدو وجه دا ده چه مونږه کله تپوس نه دِ کړي،نه مو چرته د چا ور ټکولي،او نه چرته د چا په لټون کښي وتی یو. کله چه مونږ د زړهٔ نه د یسوع مسیح هغه په احکاماتو عمل کوو نو الله پاک به مونږ ته د تربيت نوري نوري موقي راکوی د کومي چه مونږ.

سوچ کوو.دا أله کار د لیډرانو د ترقئ ،دمسائلو حل،منصوبي ،مشقی کارونه ،دعاګانو کښي مدد او لار ښودنه کوی.

- خپل ټولګي کښي لیډر ته خواست اوکړئ چه روان وخت د دعا سره ختم کړی.
  د خپلي تربيتی وني د لیډرانو دپاره او د وړو وړو ټولګو د راروانو منصوبو دپاره دعا اوکړی. د راتلونکي مباشت دوران کښي د لیډرانو د ترقئ دپاره چه کوم مشقونه کیږی د هغه دپاره دعا اوغواړئ.



Jesus
Dan
Tom
John
Keith
Patrick
Roy
Charles
Ed
Frank
Steve
Jeff
Zach
Zane

# 3

# دیسوع پـه شان لیډری اوکړئ.

یسدع د هري زماني لوي مشر دي. څوک هم د هغۀ غوندي په ډېرو خلقو مشری نه کولي.په دريم سبق کښي د يسوع غوندي د مشرئ اووۀ خوبياني ښودلي شوی دي.د خپلي مشرې د ازميختونو په رنړا کښي خپل ښۀ والي او بد والي ښود لي شی.پره /ټولګي جوړولو مرحله د یو بل سره د ملګرتيا کولو په سبق تر سره شوه.

